شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پراو ۱۱۱۰ ګڼه / یکشنبه د صفرالمظفر ٤مه ۱٤٤۸هـ.ق / د چنګاښ ۲۸مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۱۹مه ۲۰۲٦ میلادي

تأکید بر افزایش همکاری‌های علمی و دینی میان افغانستان و برونای

سفیر امارت اسلامی در مالیزیا در دیدار با قاضی‌القضات برونای دارالسلام، بر تقویت روابط دوجانبه و توسعه همکاری‌های دینی و علمی میان دو کشور اسلامی تأکید کرد.

دفتر مطبوعاتی سفارت امارت اسلامی در مالیزیا با انتشار خبرنامه ای اعلام کرده که نقیب‌الله احمدی، سفیر و سرپرست این سفارت، با شیخ محمد سالم بن بیسار، قاضی‌القضات برونای دارالسلام، دیدار نموده و درباره گسترش روابط دوجانبه و همکاری‌های دینی و علمی میان افغانستان و برونای گفتگو کرده است. بر اساس خبرنامه سفارت، نقیب‌الله احمدی در این دیدار معلومات همه‌جانبه درباره وضعیت افغانستان ارائه کرد. در مقابل، شیخ محمد سالم بن بیسار، افغانستان را کشور برادر خواند و روابط میان افغانستان و برونای دارالسلام را برای دو کشور اسلامی بااهمیت توصیف کرد. وی همچنین بر توسعه همکاری‌ها و گسترش روابط میان علمای افغانستان و برونای دارالسلام تأکید ورزید.

در پایان این دیدار، دو طرف بر تقویت روابط دوجانبه و توسعه همکاری‌های دینی، علمی و تعامل بیشتر میان نهادهای دینی دو کشور تأکید کردند.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت:

د غالۍ اوبدلو صنعت کې نږدې یو میلیون هېوادوال په کار بوخت دي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت ویلي، چې د افغانستان د غالیو اوبدلو په صنعت کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول شاوخوا یو میلیون هېوادوال پر کار بوخت دي، چې د هېواد له مهمو تولیدي او صادراتي سکتورونو څخه کنل کېږي. د اقتصادي معاونیت په وینا، د تولید شویو غالیو یوازې یوه کمه برخه په کورني بازار کې پلورل کېږي، خو دېره برخه یې بهرنیو بازارونو ته صادرېږي. د چارواکو د معلوماتو له مخې، روان کال له ۷۶۰ زره مربع مترو څخه ډېرې غالۍ ترکیې، اروپایي هېوادونو او یو شمېر عربي هېوادونو ته صادرې شوي، چې دا کچه د تېرو کلونو په پرتله د پام وړ لوړه بلل کېږي. د یادونې وړ ده، چې افغاني غالۍ بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان په نامه او نښان صادرېږي چې د کیفیت او ډیزاین له امله یې نړیوال شهرت زیات شوی دی.

برگزاری نشست هماهنگی زون غرب با محور اشتغال، امنیت و مبارزه با مواد مخدر

نشست هماهنگی مسئولان زون غرب کشور به رهبری شیخ نوراحمد اسلام‌جار، والی هرات و با حضور مقام‌ها و مسئولان ولایت‌های غور، فراه، بادغیس و نیمروز برگزار شد. دفتر مطبوعاتی مقام ولایت هرات در خبرنامه‌ای اعلام کرد که در این نشست، پیرامون ایجاد فرصت‌های کاری، کاهش جرایم جنایی، جلوگیری از کشت و قاچاق مواد مخدر، فراهم‌سازی زمینه‌های بهتر آموزش علوم دینی و عصری و شماری از موضوعات دیگر گفتگو شد. والی هرات بر ایجاد فرصت‌های شغلی برای جوانان در ولایت‌های نیمروز، فراه، غور و بادغیس، به‌ویژه در بخش‌های زراعت، صنعت و ساختمان‌سازی، تأکید کرده است.



وی همچنان بر اجرای هرچه بهتر فرامین عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه‌الله تعالی» در بخش‌های مختلف و تقویت هماهنگی... ص۲

له هرات څخه بهر ته د حیواني محصولاتو صادرات اووه برابره زیات شوي

د هرات سیمه‌ییز چاراکي وایي: د روان کال په لومړیو درېیو میاشتو کې له دې ولایت څخه د حیواني محصولاتو صادرات د پام وړ زیات شوي او د تېر کال د همدې مودې په پرتله نږدې اووه برابره لوړ شوي دي. د چارواکو د معلوماتو له مخې، په یاده موده کې د ۱۲۳،۱ میلیون ډالرو په ارزښت له ۱،۲۸۰ ټنو څخه‌ډېر د څارویو پوستکي او کولمې د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته صادرې شوې دي. دوی زیاتوي چې دغه محصولات ایران، امریکا، هند، ترکیې، اتریش او لبنان ته لېږدول شوي، چې دا د هرات د صادراتي فعالیتونو د پراختیا او د نړیوالو بازارونو د غوښتنې د زیاتوالي څرګندونه کوي. مسئولین باور لري چې د حیواني محصولاتو د صادراتو زیاتوالی نه یوازې د سوداګرۍ د پراختیا لپاره مهم دی، بلکې د مالدارۍ سکتور او اړوندو اقتصادي فعالیتونو د ودې لپاره هم اغېزناک ... ۲مخ

کاپیسا کې د تورمالین کان د استخراج چارې پیل شوې

د کاپیسا ولایت په اله سای ولسوالی کې د تورمالین قیمتي ډبرې د استخراج چارې د ځایي مسئولینو په حضور کې پیل شوې. د یاد ولایت د کانونو او پټرولیم رئیس عنایت الله ابلاغ ویلي، چې د حسن اباد په سیمه کې د تورمالین کان د اتو صوفونو (استخراجي برخو) د استخراج چارې رسماً پیل شوې، چې له دې لارې به له ۲۰۰ ډېرو کسانو ته د کار زمینه برابره شي.

نومورې زیاته کړې، تورمالین له قیمتي ډبرو څخه شمېرل کېږي، چې د سختوالي درجه یې ۷،۵ ده او د خانګړو منشورې بلورونو له امله په نړۍ کې د کانو جوړولو په صنعت کې ډېر کارول کېږي. د کاپیسا د کانونو رئیس ویلي: د تورمالین زېرمې یوازې په الهسای ولسوالۍ پورې محدودې نه دي، بلکې په تګاب، نجراب او کوهبند ... ۲ مخ

کونړ کې نوی روغتیایي مرکز پرانیستل شو

د کونړ ولایت د شلتن ولسوالۍ اړوند د رودو په سیمه کې د ۱۸ میلیونه او ۲۰۰ زره افغانیو په لګښت یو نوی روغتیایي مرکز جوړ او کتې اخیستنې ته وسپارل شو. د کونړ د عامې روغتیا رئیس، قاري مظفر مخلص د یاد مرکز د پرانیستې په مراسمو کې وویل، چې دغه روغتیایي مرکز د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ په مالي ملاتړ د یوه کال په موده کې جوړ شوی او پر ټولو اړینو اسانتیاوو سمبال دی. نومورې... ۲ مخ

سر مقاله

څنګه کولی شو چې خپل محیط پاک وساتو؟

الله سبحانه وتعالی انسان پر ځمکه د خپل خلیفه په توګه پیدا کړی او د دې ښکلې نړۍ د آبادۍ او ساتنې مسئولیت یې ورسپارلی دی. قرآنکریم انسان ته خبرداری ورکوي چې: ژباړه: «په ځمکه کې له سمون وروسته فساد مه کوئ.» په دې الهي لارښوونه کې یوازې د جګړو او شخړو مخنیوي ته اشاره نه ده شوې، بلکې د طبیعت، اوبو، هوا، ځنګلونو او ټول چاپېریال ساتنه هم پکې شامله ده. له همدې امله د چاپېریال پاکوالی د ایمان تقاضا او د هر انسان مسئولیت دی.

نن چې نړۍ د اقلیمي بدلون، د اوبو د کمښت، د هوا د ککړتیا او د طبیعي سرچینو د له منځه تلو له جدي ګواښونو سره مخ ده، نو افغانستان هم تر نړۍ مستثنی نه دی او د نړۍ یو له زیانمنو هېوادونو څخه دی. که څه هم زموږ هېواد د الله تعالی له لوري په غرونو، سیندونو، شنو درو او طبیعي ښکلاوو نازول شوی، خو د دغو نعمتونو ساتنه د دولت ترڅنګ د هر مسلمان او هر وطنپال افغان ګډ مسئولیت دی.

له بده مرغه، لا هم په ځینو سیمو کې د کثافاتو بې ځایه غورځول، د ویالو او سیندونو ککړول، د پلاستیکي موادو زیات او بې ضرورته استعمال، د ونو بې ځایه پرې کول او عامه خایونو ته نه پاملرنه هغه بد عادتونه دي چې نه یوازې د ښارونو او کلیو ښکلاوې بې زیانمنې کړي، بلکې د ناروغیو د خپرېدو، د چاپېریال د تخریب او د طبیعي توازن د ګډوډېدو لامل هم ګرځېدلي. دا هغه ستونزې دي چې پرته له قانونه؛ د ویښ وجدان، ایمان او ټولنیز احساس له لارې هم اصلاح کېدای شي.

د اسلامي امارت تر مشرۍ لاندې د هېواد په بېلابېلو برخو کې د پاکوالي، زرغونتیا او ښارې نظم د ټینګښت لپاره هڅې روانې دي. د ونو کرل، د ښارونو د پاک ساتلو پروګرامونه، د عامه خایونو د نظم ساتنه او د چاپېریال اړوند عامه پوهاوی هغه اقدامات دي چې د سالمې ټولنې د جوړېدو لپاره مهم بنسټونه ګڼل کېږي، خو دا ټولې هڅې به هغه مهال رنګ راوړي او مثبته پایله به ورکړي، چې ولس د چاپېریال ساتنه خپل مسئولیت وګڼي او په عمل کې له نظام سره ملګرتیا وکړي.

هېڅ ښار په زور نه پاکېږي، چې حکومت دې په خلکو پسې لرګي ... ۳مخ

هواد کې د نفتي توکو بېې لوړې شوې دي

په افغانستان کې د پټرولو، ډیزلو او اوبلن ګاز بېې لوړې شوي چې د خلکو او موټرچلوونکو اندېښنې پې زیاتې کړې دي. کابل ښاریان وایي: د سون‌توکو لوړې بېې د کورنیو پر محدودو عوایدو دروند بار اچولی دی. د بازار له ارزونو سره سم، په ځینو سیمو کې مایع ګاز د رسمي نرخ خلاف تر ۱۰۰ افغانیو او یا هم زیات پلورل کېږي. موټرچلوونکي وایي: د تېلو د بیو لوړوالی دوی ار باسي چې کرایې لوړې کړي، څو خپل لګښتونه پوره کړي. ... ۳مخ

افتتاح ساختمان جدید مسجد شهیدان در میدان وردک

ساختمان جدید مسجد شهیدان در ولسوالی سیدآباد ولایت میدان وردک، با حضور شماری از مقام‌های محلی و باشندگان این ولسوالی افتتاح شد. این مسجد با هزینه نزدیک به یک میلیون دالر با حمایت مالی یک تاجر ملی این ولایت، در منطقه دشت توپ ولسوالی سیدآباد ساخته شده است. مسجد متذکره با تمامی امکانات لازم در مدت دو سال ساخته شده ... ص۲

پنجشیر کې ۱۵ زرو ځوانانو ته د کاري زمینې برابرېدل

د پنجشیر ولایت خایي مسئولین وایي: په دغه ولایت کې د قیمتي ډبرو د کانونو د استخراج په پراخېدو سره شاوخوا ۱۵ زرو ځوانانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده. د پنجشیر د والي ویاند سیف‌الدین لټون ویلي چې دا مهال شاوخوا زر تنه ځوانان د قیمتي ډبرو، په ځانګړي ډول د زمردو، د پیر او پلور په برخه کې په مستقیم ډول فعالیت کوي او د زمردو د مزایدو او د کابل او بهرنیو بازارونو له لارې مناسب عاید ترلاسه کوي. د نومورې په وینا، تر اوسه په پنجشیر کې د ۱۶ ډوله کانونو سروې شوې او د ډبروجو، زمردو او یو شمېر نورو قیمتي منرالونو استخراج په عملي ډول روان دی. لټون زیاته کړې اوس مهال شاوخوا ۱۵ زره کسان، چې ډېر یې د پنجشیر اوسېدونکي دي، د کانونو د استخراج په برخه کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کار بوخت دي، چې ۴۰ سلنه یې هره ... ۲مخ

ارزګان کې یو ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه

د ارزګان ولایت د مرکز ترینکوټ ښار اړوند د چرمګر کلي د کوچیانو د چرمګر لومړني ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه او کتې اخیستنې ته وسپارل شوه. دغه ودانۍ د یونیسف په مالي ملاتړ د ۸ میلیونه ۹۷۷ زره ... ۳مخ

کابل ښاروالۍ د ودانیو ۱۰۷۷ نقشې تأیید او منظوري کړې

د کابل ښاروالۍ د ودانیزو نقشو د ویزې کمیټې، د ۱۴۰۵ کال له پیل څخه تر اوسه د تخنیکي ارزونو او اړینو اصلاحاتو له ترسره کولو وروسته، د استوګنیزو او سوداګریزو ودانیو ۱۰۷۷ نقشې تأیید او منظوري کړې دي. دغه نقشې د ښار جوړوني له نورمونو، معیارونو او اصولو سره مطابق چمتو او ارزول شوې دي، ترڅو ښاریانو ته په قانوني، معیاري او اسانه توګه په پلاني او غیرپلاني سیمو کې د ودانیو او نورو تاسیساتو د جوړولو د رسمي جواز ترلاسه کولو زمینه برابره شي. کابل ښاروالۍ د نقشو د ارزونې او منظوري ترڅنګ، د ودانیو د جوړولو بهیر هم په دوامداره توګه څاري څو پروژې د منظورو شویو نقشو، غوره کیفیت او تخنیکي معیارونو مطابق پلي شي. دغه څارنې د ودانیو ... ۳مخ

د بغاوت پر دیپاله نشه!

گل رحمن رحماني

د کابل اداري او پخوانیو مسفدینو پورې تړلو رسنیو او خواله شبکو په بدخشان ولایت کې د یفتل ولسوالۍ د امنیتي پښې او کواکې سقوط په اړه پراخ منفي تبلیغات پیل کړي او کوښښ کوي چې په هوایي دول دغې پښې ته په خپله کټه کمپاین وکړي، ځو له یوې خوا د دوی د ناکامیو مخه پټه کړي او له بلې خوا په بدخشاني خوانانو کې یو ځل بیا د بغاوت نشه وپاروي او د خپلو نامشروعو موخو لپاره یې د تېر په څېر وکاروي.

دا پښه په خپله بڼه له ځو خواوو د شننې وړ ده. لومړی خو خپله د پښې موده چې د لنډ مهال لپاره د ځایي شورشګرو لـه لوري د یفتل پایین ولسوالۍ ودانۍ د سـپاهیان میهن په نامه د نومول شویو ناپېژاندو وسله والو له لوري له امنیتي پښـې سره مخامخ شوه، خو په نړۍ موده کې د اسلامي امارت امنیتي خواکونو سخت غبرګون وښود او باغیان یې ونیول چې د اقرار او په خپلو تېروتنو د اعتراف وډیوګانې او انځورونه یې خپاره شوي دي. د عبدالقیوم ملنګ په نامه کوم ځایي وسله وال د کابل اداري د پخوانیو جمعیتي چاروا کو له لوري د اتل په نامه مطرح کېږي چې ګڼې لویـه مېرانه یې کړې، خو دوی دا هېروي چې افغانسـتان نور د بېرونیو پروژو د تطبیق ځای نه دی او که چېرته په یوه ولسـوالۍ کې په ناخبرۍ کې د یوې شـپې لپاره داسې پښه رامنځته کېږي، یوه معمولي چاره ده او بل ارخ یې مهم دی او هغه په کم وخت کې د امنیتي خواکونو چټک غبرګون او تر لسو پورې د شورشیانو نیول او په عام محضر کې خلکو ته ښودل دي.

افغانستان اوسمهال د اسلامي امارت تر چتر لاندې له سراسري امنیت ځخه برخمن دی او یوه لوښـت ځمکه هم د امارت له واکمنۍ ځخه بهر نـه ده، دا امنیت په عادي دول هم نـه دی راغلی، بلکې د خلکو د همکارۍ او له اسلامي امارت ځخه د ملاتړ په بدل کې تأمین شوی دی، ځکه تجربو ثابته کړې ده چې تر ځو یو نظام پوخ ولسي ملاتړ ونه لري، امنیت او سـوله نه شي ټینګولی. نن د هېواد په کوټ ګوټ کې خلک په ارامه فضاء او سوکالۍ سره ژوند کوي، یوازې بدخشان دی چې مغرضو رسـنیو او جمعیتي تښتېدلو چاروا کو ورته بې ځایه او تش تبلیغات پیل کړي دي او هڅه کوي چې ځایي خلک بغاوت ته وهڅوي چې دا رول یې د جمعه خان فاتح پـه قضیه کې، چې اوس مهال په کابل کې ژوند کوي او د بغاوت ټول خبرونه یې رد کړي دي، ښه ادا کړ، خو دا تبلیغات یې پوچ او بې ځایه ثابت شول.

د بدخشان د یفتل وروستۍ پېښه هم د دا دول ناکامو دسیسو یوه کړۍ وه چې په وخت سره رسوا او ماته شوه، بغاوتګرو پښمماني ځرګنده کړه او دا د بهرنیو استخباراتي حلقو او اشخاصو په تورو مخونو یوه زوروره څېړه وه. د بدخشان شریف خلک په دې پوهېږي چې په تېرو لسیزو کې یې ځوانان د کابل په تېره اداره کې د بدخشاني ملکي او نظامي چاروا کو او وکیلانو له لوري په ببلابیلو نومونو کارول شوي او دوی له سترو نومونو او مقامونو سره سره هم دغه محروم ولایت ته هېڅ خدمت نه دی کړی او اوس چې یو ځل بیا د بغاوت او مقاومت خبرې کوي، دا ډېره د خندا وړ موضوع ده، د بغاوت او مقاومت په نامه د پرو پاکند مشـران هم په دې پوهېږي چې هلته د قدم ایښودلو لپاره هېڅ ځای نه لري او بدخشاني ولس ته یې د بیا ورستنېدو لپاره کوم مخ نه دی پرېښې.

د ملي دفاع وزارت لوی درستیز قاري فصیح الدین فطرت، چې خپله هم د بدخشان ولایت اوسېدونکی دی، په بیا بیا د اسلامي امارت مشرانو او ولس ته ډاډ ورکړی چې بدخشان نور د شورش او بغاوت ځای نه، بلکې د اطاعت، ابادۍ او طبیعي مناظرو د سـیل سیمه ده، هېڅا ته هم د دې اجازه نه ورکوي چې دا ولایت نا امن کړي او د بغاوت ډنډورې وغږوي. د دې ډنډورو بهرني ملاتړي او شړل شوي چارواکي هم باید خپله انرژي په داسې افواهاتو ونه لګوي، بلکې په بهر کې دې خپلو اولادونو او کورنیو ته د یوې مـرۍ دودۍ د پیدا کولو او د پناه ورکوونکي هېواد اصولو ته په ژمنتیا سره ولګوي، ځکه هسـې نه چې په دې کارونو سره هم د کوربه هېوادونو ملاتړ له لاسـه ورکړي او هم د خپلو خلکو په زړونو کې له دې نور هم منفور شي.

د افغانسـتان اسـلامي امارت نه یوازې چې د خپلې خاورې د داخلي امنیت د ټینګښـت عالي ورتیا لري، بلکې په بهرنیو امنیتي تهدیدونو پر وړاندې هم په مېرانه مبارزه کوي چې په دې لړ کې یې د ایران، پاکستان او تاجیکستان سرحدي شـخړو کې له خاورې او خلکو په مېرانه دفاع کړې ده.

څنګه کولی شو چې خپل محیط ...

راواخلي چې هله ژر کړئ، خپل کور کلی پاک کړئ، چاپېریال خو د خلکو په فرهنګ، احسـاس او همکارۍ پاکېږي. که هر وګړی یوازې د خپل کور، دوکان، کوڅې او کلي د پاکوالي احساس وکړي، زمونږ ښارونه به د پاکی، نظم او ښایست ببلګې شي.

همدارنګه که هره کورنۍ خپلو ماشـومانو ته د پاکوالي، د ونو د سـاتنې او د طبیعت د ارزښـت درس ورکړي، راتلونکی نسل به د چاپېریال ساتنه د خپل شخصیت یوه نه بېلېدونکې برخه وبولي.

رسـنۍ، دیني عالمان، ښوونځي او ټولنیز بنسټونه هم د دې ملي او اسلامي فرهنګ په پیاورتیا کې سـتر مسـئولیت لري. هغه ټولنه چې د منبر، قلم او ښوونځي له لارې د پاکوالي پیغام خپروي، په حقیقت کې دوی خپل راتلونکي نسـل ته د یو آباد، پرمختللي او له هر قسـم بدبختیو د پاک هېواد پرېښودل غواړي.

راځئ، د پاک چاپېریال ساتنه خپل فرهنګ وګرځوو او دا د خپل ایمان، خپل وطن او خپلو راتلونکو نسـلونو پر وړاندې یو امانت وګڼو. هره ونه چې کرل کېږي، هر کثافت چې په خپل ځای کې اچول کېږي او هره کوڅه چې پاکه ساتل کېږي، د یو آباد افغانستان د جوړېدو په لور عملي ګام دی.

افغانسـتان زمونږ کډ کور دی. د دې کور پاکوالی، ښکلا او زرغونتیا زمونږ د اسـلامي شعور، ملي احساس او مدني مسئولیت ښـکاره نښه ده. که نن د چاپېریال ساتنه خپله وجیبه وبولو، سبا به خپلو اولادونو ته یو پاک، روغ او د ویاړ وړ افغانستان په میراث پرېږدو.

فکري خپلواکي؛ د ملتونو د عزت او پرمختګ راز

اسدالله مسلم

د بشـري تاریخ په اوږدو کـې هغه ملتونه تل د عزت، سـیادت او پرمختګ لوړو پوړیو ته رسېدلي چې لومړی یې خپل فکر ازاد کړی او بیـا یې خپله خاوره آباده کړې ده، ځکه د ملتونو رښـتینی ځواک یوازې په پوځي وسـایلو، اقتصادي سرچینو، طبیعي زېرمو او یا هم د نفوسـو په ډېروالي کې نه دی نغښـتی، بلکـې د هغوی د فکر په خپلواکۍ، د پرېکړو په استقلال او د خپل برخلیک په شعوري ټاکنه کـې پروت دی. هغه ولس چې د بل په ذهن فکر کوي، د بل په ژبه خبرې کوي، د بل دین او کلتورخوښـوي او د بل په خوښه پرېکړې کوي، که هر ځومره ظاهـري امکانات هم ولري، د خپل راتلونکي واکمن نه شـي پاتې کېدای. له همدې املـه فکري خپلواکي د هر ملت د خپلواکۍ هغه نه لیدل کېدونکې ستنه ده چې د دولتونو بقا، د ټولنو ثبات او د تمدنونو راتلونکی پرې ولاړ وي.

ننـنۍ نړۍ یـوازې د جغرافیو د نیولو نړۍ نـه ده، بلکې د ذهنونو د تسـخیر نړۍ ده. که پخـوا به یرغلګرو د توپ، ټانـک او باروتو په زور هېوادونه نیول، نن د رسـنیو، تبلیغاتو، معلوماتو، ټولنیزو شبکو او فکري روایتونو لـه لارې د ملتونو فکرونه تر خپلې اغېزې لاندې راولي، ځکه د معاصر سیاسـت او نړیوالو سـیالیو یو مهم اصل دا دی چې هر څوک د خلکو ذهنونه خپـل کړي، د هغوی راتلونکی بـه هم تر ډېره بریده په خپل واک کې ولري. له همدې امله د فکري خپلواکۍ سـاتنه د هر ملت لپاره د سـرحدونو د سـاتنې په اندازه ارزښت لري.

فکـري خپلواکـي پـه دې مانا نه ده چـې یو ملـت دې د نړۍ له پرمختګونو، علمي تجربو او نوې ټکنالوژۍ ځخه ځان لرې وساتي؛ بلکې اصلي مفهوم یې دا دی چـې هر نوی فکر، هره نظریه او هره تجربـه د خپل دین، ملي ارزښـتونو، عقل او واقعـي ارتیاوو په رڼا کې وارزول شـي. هوښـیار ملتونه له نورو زده کړه کوي، خو خپل شخصیت نه بایلي؛ له تجربو کټه اخلي، خو خپل هویت نه پلوري؛ د علـم دروازې پرانیزي، خو د تقلیـد کړکۍ نه خلاصوي. همدې توازن هغوی د پرمختګ لوړو پوړیو ته رسولي دي.

د افغانسـتان تاریخ هم د همدې حقیقت ژوندۍ بېلګه ده. هر هغه وخت چې افغانانو خپل تصمیمونه د خپل دیني باور، ملي شـعور او کډو کټو پر بنسـټ نیولي، خپل عـزت، خپلواکي او هویت یې خوندي سـاتلی دی؛ خو هر ځل چې د پردیو سیاسـي، فکري او فرهنګـي اغېزو زمـونږ د خلکو ترمنځ ببلتون، بې بـاوري او تفرقه رامنځته کړې، هېواد له اوږدو کړاوونو، ناخوالو او وروسته پاتې کېدو سره مخ شـوی دی. له همدې امله د افغانستان د روښانه راتلونکي لپاره یوازې اقتصادي پروژې او عمراني کارونه بسنه نه کوي، بلکې له هر ځه وړاندې د سـالم فکر، اسـلامي باورونو، ملي شـعور او فکري خپلواکۍ پیاورتیا ارینه ده.

فکري خپلواکي د علم له رڼا پرته نه شي پیاورې کېدای. ناپوهي تل د پردیو د نفوذ لپاره لاره هواروي، خو علم د انسان ذهن روښانوي، د حقیقـت او دروغو ترمنځ د توپیر وړتیا پیاورې کوي او د سـمې پرېکړې جرئت ورکوي. هغه انسان چې مطالعه کوي، ځېرنه کوي، د خپل دیني او ټولنیز تاریخ تجربې لولي او هره خبره په دلیل او برهان ارزوي، هېڅکله د احساسـاتو، اوازو او تبلیغاتو اسیر نه ګرځي. له همدې امله کتاب، مدرسه، ښوونځی، دارالعلوم، پوهنتون او د علم هر مرکز د فکري خپلواکۍ د ساتنې لومړنی سنګر ګڼل کېږي.

همدارنګه، فکري خپلواکي یوازې د پوهانو او لیکوالانو مسـئولیت نـه دی، بلکې د ټولنې د هر وګړي ګډ مسـئولیت دی. مور او پلار چې خپل اولادونه د سـالم فکر، رښـتینولۍ او مسئولیت احساس ته روزي، ښوونکی چې شـاګرد ته د پوښتنې، استدلال او حقیقت موندنې جرئت ورکوي، لیکوال چې د قلم له لارې د ټولنې شـعور راویښـوي او ځوان چې د ټولنیزو رسنیو هر پیغام له تحقیق او تأمل وروسته مني؛ دا ټول د فکري خپلواکۍ د پیاورتیا په ستره مبارزه کې خپله ونډه ادا کوي.

نن سبا د معلوماتو چټک جریان د انسان لپاره هم فرصت دی او هم آزموینه. هره ورځ زرګونـه خبرونه، تحلیلونه، ویډیوګانې او نظریې د خلکو تر غوږونو او سـترګو رسېږي. که انسان د تحلیل او ارزونې وړتیا ونه لري، د حقیقت او تبلیغ ترمنځ کربنـه ورته له منځه ځي. له همدې امله معاصر انسان له هر وخته ډېر فکري بصیرت، ژورې مطالعې او قوي اسـتدلال ته اړتیا لري، ځو د هر غږ تر شـا نغښتې موخې وپېژنـي او د خپلې ټولنې، خپل دین او خپل هېواد د خیر او زیان ترمنځ سم قضاوت وکړای شي.

د فکري خپلواکۍ له ټولو سـتر دښـمن رڼوند تقلید دی. تقلید هغه مهال خطرناک کېږي چې انسان د دلیل، تحقیق او بصیرت پر ځای یوازې د نورو د خوښې، تبلیغ او احساساتو تابع شي. په داسې حالت کې نه یوازې د فرد د فکر ځـواک کمزوری کېږي، بلکې د ټولنې د نوښت، اختراع او پرمختګ دروازې هم ورو ورو ترڼ کېږي. ژوندۍ ټولنې پوښتنه کوي، ځېرنه کوي، استدلال کوي او بیا پرېکړه کوي؛ خو مړې ټولنې د فکر کولو پر ځای یوازې د نورو خبرې تکراروي.

دا هم باید هېر نه کړو چې فکري خپلواکي د انزوا او ځان بسیا ګنلو په معنا نه ده. اسـلام مسـلمانان د علم، حکمت او تجربې ترلاسه کولو ته هڅولي دي. مسـلمان کولای شي د نړۍ له هر ګوټ ځخه ګټـور علم، پرمختللې ټکنالوژي او بریالـی تجربې زده کړي، خو د خپل دیـن، کلتور او ملي ګټو په چوکاټ کـې یې وکاروي. هغه ونه چې خپلې ریښـې په خپله خاوره کې ټینګې ولري، د هر باد پر وړاندې درېږي؛ خو چې ریښـې یې کمزورې شـي، د هرې څپې او هر باد نښـکار ګرځي. ملتونه هم همداسې دي؛ هر ځومره چې د هغوی فکري ریښـې ژورې وي، په هماغـې اندازه یې راتلونکی خوندي وي.

د افغانسـتان د پرمختګ لپاره له هر ځه وړاندې د سـالموفکرونو یووالی، د علم درناوی او د ملي مسـئولیت احساس ته اړتیا ده. که زمونږ ځوانان یوازې د مصرف کوونکو پر ځای د فکر، علم او نوښت خاوندان شـي، که زمونږ ښـوونځي او پوهنتونونه د حفظ تر ځنګ د تحلیـل او ځېرنې روحیه هم وروزي، که رسـنۍ د اختلافونو پر ځای د ملي شـعور په پیاورتیا کې خپله ونـډه ادا کړي او که د قلم خاونـدان د تعصب پر ځای د حقیقت او اصلاح غږ پورته کړي، نو د لا نور باثباته، پرمختللي او باعزته افغانسـتان لپاره به قوي بنسټ کېښودل شي.

ځوان نسل په دې برخه کې ځانګړی مسئولیت لري. همدوی د سبا رهبران، متخصصین، ښـوونکي، سـوداګر او د ټولنې لارښوونکي دي. که د دوی ذهنونه د سـالم علم، اسلامي اخلاقو، وروږکلوی، مینې او ژور فکر پر بنسـټ وروزل شـي، راتلونکی به روښانه وي؛ خو که یې وخت په بې ګټې بوختیاوو، تقلید او بې بنسټه تبلیغاتو کې ضایع شـي، د ټولنې د پرمختګ کاروان به هم ورو شي. له همدې امله هر ځوان باید له ځان ځخه دا پوښتنه وکړي: ایا زه د نورو د فکر تکرارووونکی یم، که د خپل فکر جوړوونکی؟

فکري خپلواکي د اسلامي تاریخ له ځېرنې ، د کتاب له مطالعې، د علم له لټون او د سـالمو علماوو او متخصصینو له لارښوونو ځخه ځـواک اخلي. هغه ملت چې مطالعه نه کـوي، د نورو روایتونه به مني؛ هغه ملت چې تحقیق نه کوي، د نورو تحلیلونه به تکراروي او هغه ملت چې خپل فکر نه روزي، د خپل برخلیک واک به هم ورو ورو له لاسـه ورکړي، ځکه د انسان ذهن د کروندې په څېر دی؛ که په کې د علم، ایمان او بصیرت تخم ونه کرل شي، د جهل، شایعاتو او انحراف اغزي به په کې راشنه شي.

نن د افغانستان اړتیا یوازې سړکونو، ودانیو او فابریکو ته نه ده؛ بلکې له دې وړاندې روښـانه ذهنونو، ویښو فکرونو او مسئولانه قلمونو ته اړتیا لري. مادي ودانۍ هغه وخت ارزښت پیدا کوي چې تر شا یې سالم فکر موجود وي. که فکر سم وي، امکانات پیدا کېږي؛ خو که فکر کمزوری وي، شـته امکانات هم له منځه ځي. له همدې امله د ملتونو اصلي پانګه د هغوی انسـاني فکر او علمي شعور دی، نه یوازې طبیعي شتمنی.

پـه پای کې ویلای شـو چې فکـري خپلواکـي د ملتونو د عزت، خپلواکۍ او تلپاتې پرمختګ بنسـټیز راز دی. هغه ولس چې خپل فکر د ایمان، علم، عقل، تجربې او ملي ګټو پر بنسـټ جوړ کړي، نه یې د پردیو تبلیغات له لارې باسي، نه یې هویت له منځه ځي او نه یې راتلونکی د نورو د ارادو تابع کېږي. راځئ چې د خپلو ذهنونو په آبادولو، د مطالعې په دودولو، د تحقیق په پیاورتیا او د سـالم فکر په روزلو سره داسې نسـل وروزو چې د افغانستان راتلونکی د نورو له تقلیـد نه، بلکې د خپل علم، خپل فکر او خپل نوښـت پر مټ جـوړ کړي، ځکه د ملتونو حقیقي آزادي هغه وخ بشـپړېږي چې ذهنونه یې هم د جهل، تعصـب او فکري غلامۍ له زنځیرونو ازاد شي.

د انسان کامیابي راز ساتلو کې نغښتې!

ابو بصیر حنفي

راز سـاتل د انسان د کامیابۍ یو عمده سبب ګڼل کېږي، په عربي ژبه کې متل دی او وایي: ژباړه: ځوک چې خپل راز وساتي، خپل مراد ته به ورسېږي.

څـوک چې راز نه سـاتي، لـه ناوړو پېښـو او جنجالونو سـره مخ کېږي،علامه طرطوشـي په سـراج الملوک کې لیکي: یوسف علیه السلام چې کله خپل هغه مشهور خوب ولید، خپل پلار یعقوب علیه السـلام ته یې بیان کړ، هغه ورته وویل چې دا خوب دې وروڼو ته مه بیانوه، ځکه کوم چل به درته جوړ کړي، کله چې دا خبره د یوسف علیه السلام میرې واورېده، خپلو زامنو ته یې یووړه، هماغه و، چې یوسف علیه السلام یې کوهي ته واچاوه او له زیاتو کړاوونو سره مخ شو.

په یوه حدیث شـریف کې زمونږ کران پیغمبر صلی الله علیه وسـلم فرمایـي، چې د خپلو حاجتونو په پوره کولو کې په راز سـاتلو باندې مرسته وغواړئ، ځکه هر د نعمتونو والا کس سره کینه کېږي.

حضرت علي رضي الله عنه وایي: ستا راز له تاسره بندي دی، که دې خبره افشا کړه ته به یې بندي جوړ شي.

امیر المؤمنین عمر بن عبد العزیز رضي الله عنه وایي: زړونه لوښـي دي، شوندې یې قولپونه دي او ژبې یې کونجیاني دي، نو هر کس دې د خپل راز کونجي وساتي.

طرطوشي رحمة الله علیه وایي: څنګه چې په سوري لوښي کې خیر نشته او څه نه پکې ساتل کېږي، دارنګه په هغه کس کې هم خیر نشته چې خپل راز نه ساتي.

پوهان وایي: کله چې ته خپل راز نه شې ساتلای، نو بل ځوک خو دې بیا بېخې راز نه شي ساتلای.

لکه څنګه چې د خپل راز سـاتل ضروري دي، دارنګه د نورو خلکو رازونه ساتل هم واجب عمل دی او رعایت یې په کار دی.

علامه ابن بطال «رحمه الله» وایي: ژباړه: راز امانت دی او ساتل یې واجب دي او دا راز ساتل د مؤمنانو له خویونو څخه دی.

د رازونو په ساتلو سـره مـرۍ کولای شو چې خپلو مقاصدو ته خانونه ورسوو، له خطرونو څخه خانونه خوندي کړو او د خلکو باور تر لاسه کړو، په دې برسېره د راز په ساتلو کې د شریعت پیروي ده او ثواب پرې راکول کېږي، بالمقابل د رازونو په افشـاء کولو کې دېر زیانونه دي، له کراوونو سره مو مخ کوي او ګناه هم لري، نو که ارام ژوند او بریا غواړو، رازونه باید کلک وساتو.

له هرات څخه بهر ته د حیواني محصولاتو ...

تمامېږي. د دوی په وینا، که د پروسس او ارزښت زیاتونې اسانتیاوې رامنځته شي، د دې سکتور صادرات به لا هم زیات او د هېواد اقتصادي عواید به لوړ شـي. بل لور ته، د حیواني محصولاتو صادروونکي وایي: سره له دې چې د صادراتو کچه لوړه شوې، خو د پروسس، سانتي او بسته‌بندی د معیاري اسانتیاوو نشتوالی لا هم د دوی له مهمو ستونزو څخه دی. د دوی په خبره، د دغو امکاناتو د نشتوالي له امله ارد چې خپل محصولات په خامه بڼه او په ټیټه بیه بهرنیو بازارونو ته صادر کړي، چې له امله یې د کورنیو تولیداتو ارزښت کمېږي.

پنجشېر کې ۱۵ زرو ځوانانو ته د کاري ...

میاشت له ۶ زرو څخه تر ۱۰ زرو افغانیو پورې معاش ترلاسه کوي. د دغو څرګندونو پر مهال، چې د پنجشېر د کانونو د سـاتنې کمېټې په غونډه کې وشوې، د پنجشېر والي الحاج حافظ محمد آغا حکیم د کانونو پر قانونمند او شفاف استخراج ټینګار وکړ چې دوی د اقتصاد پیاورتیا، د کورنیو ځان‌بسیاینې او ځوانانو ته د کاري فرصتونو د برابرولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

برګزاری نشست هماهنګی زون غرب ...

میان مسـئولان زون غرب کشور به‌منظور کاهش جرایم جنایی تأکید کرده است. در همین حال، مقام‌ها و مسئولان ولایت‌های یادشـده ضمن ارائه گزارش از وضعیت ولایت‌های مربوط، اقدامات انجام‌شده برای فراهم‌سـازی زمینه کار و بهبود شرایط زندگی مردم را تشریح کرده و مشکلات و چالش‌های موجود را نیز با یکدیگر در میان گذاشتند.

افتتاح ساختمان جدید مسجد شهیدان ...

و در یک وقت گنجایش دوهزار نمازگزار را دارد. در مراسم افتتاح این مسجد، شیخ نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور، گفت که ساخت و آبادی مکان‌های عبادت، نشانه پیشرفت، وحدت و تقویت ارزش‌های دینی در جامعه اسلامی است و تکمیل کار این مسجد را دستاورد ارزشمند برای مردم خواند. در همین حال، شیخ‌الحدیث عبدالهادی فضلی، رئیس شـورای علمای میدان وردک، گفت که پس از بازگشت امارت اسلامی، امنیت در کشور تأمین شده، جنگ پایان یافته و زمینه مناسب برای سرمایه‌گذاری فراهم شده است. وی از تاجران ملی خواست که سرمایه‌های خود را در کشور، به‌ویژه در ساخت مدارس دینی، مساجد و پروژه‌های عام‌المنفعه به کار گیرند. همچنان خان‌محمد وردک، تاجر ملی که این مسجد را ساخته است، درباره روند ساخت این مسجد معلومات ارائه کرد و از سایر تاجران و سرمایه‌داران خواست که در ساخت مساجد و آبادی بخش‌های مختلف کشور سهم بگیرند.

کاپیسا کې د تورمالین کان د استخراج ...

ولسوالیو کې هم شته. ده همداراز وویل: په کاپیسا کې د تورمالین ترڅنګ د شین کارنېټ، یاقوتو او سپینل قېمتي ډبرو د استخراج بهیر هم روان دی. چارواکي وایي: د طبیعي زېرمو استخراج به د کار موندنې، اقتصادي ودې او د هېواد د کانونو د پراختیا په برخه کې مهم رول ولري.

کونړ کې نوی روغتیایي مرکز ...

خلکو ته د معیاري روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، چې د یاد روغتیایي مرکز په فعالېدو سره به د شلتن ولسوالی د رودو سیمې له ۳۰ زرو څخه تر ۶۰ زرو پورې اوسېدونکي په معیاري ودانی کې روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی وموميي.

افغان اعلانات

موضوع: لغو نشر اعلان ا پروژه تالک ولسوالی شیرزاد ولایت ننگرهار

وزارت معادن و پترولیم پروژه بلاک سوم تالک ساحه مرکیخیل ولسوالی شیزراد ولایت ننگرهار را قبلاً از تاریخ ۱۵ سرطان الی ۱۴ اسد ۱۴۰۵ به اعلان داوطلبی گذاشته بود که اکنون بر اساس حکم مقام محترم اعلان مذکور لغو بوده و علاقه مندان مطلع باشند.

اعلان مجدد داوطلبی

موضوع: نشر مجدد اعلان مقدار (۲۷۵۸/۹۸۷) تن سرب و جست سهم وزارت از تولیدات تحت قرارداد شرکت گاما ایگل معدن سال ساحه سر سرخک ولسوالی یکاولنگ ولایت بامیان از طریق پروسه داوطلبی!

قرار است وزارت معادن و پترولیم مقدار (۲۷۵۸/۹۸۷) تن سرب و جست سهم وزارت از تولیدات معدن ساحه سر سرخک ولسوالی یکاولنگ ولایت بامیان را از تاریخ ۱۴۴۸/۰۱/۲۹ ه ق مطابق ۱۴۰۵/۰۴/۲۴ ه ش غرض آگاهی علاقمندان به منظور فروش از طریق پروسه داوطلبی برای مدت ۱۰ روز به اعلان بسپارد.

قابل ذکر است که قیمت ابتدایی برای فی تن سرب و جست متذکره از طرف کمیته محترم قیمت گذاری مبلغ (۳۵۰) دالر امریکایی تعین گردیده است و متقاضیان محترم میتوانند درخواستی شان را جهت اشتراک در پروسه داوطلبی در جریان اعلان به ریاست مدیریت و تطبیق معادن فلزی ارائیه و شرطنامه مربوطه را دریافت نمایند و هکذا داوطلبان محترم مکلف اند مطابق رهنمود جداسازی سهم و شرطنامه، ده (۱۰) فیصد مجموعه قیمت ابتدایی را بشکل تضمین بانکی در روز داوطلبی با خود داشته باشند.

اعلان مجدد داوطلبی

موضوع: نشر اعلان مجدد مقدار (۱۶۰۰) تن کرومایت نیمه پروسس شده سهم وزارت از معدن ساحه کدو غر بلاک دوم ولسوالی ترنک و جلدک ولایت زابل شرکت تجارتی استخراج و پروسس سایر معادن گلوگلکسی!

وزارت معادن و پترولیم مقدار (۱۶۰۰) تن کرومایت نیمه پروسس شده سهم وزارت از معدن ساحه کدو غر بلاک دوم ولسوالی ترنک و جلدک ولایت زابل را غرض آگاهی علاقمندان به منظور فروش از طریق پروسه داوطلبی برای مدت ۱۰ روز به اعلان مجدد میسپارد.

قابل ذکر است که قیمت ابتدایی برای فی تن کرومایت متذکره از طرف کمیته محترم قیمت گذاری مبلغ (۱۱۰۰۰) یازده هزار افغانی تعین گردیده است و متقاضیان محترم میتوانند درخواستی شان را جهت اشتراک در پروسه داوطلبی در جریان اعلان به ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها ارائه و شرطنامه مربوطه را دریافت نمایند و هکذا داوطلبان محترم مکلف اند مطابق رهنمود جدا سازی سهم، ده (۱۰) فیصد مجموعه قیمت ابتدایی را نقداً به حیث تضمین در روز داوطلبی با خود داشته باشند.

اعلان مجدد داوطلبی

موضوع: نشر اعلان مجدد مقدار (۳۶۳/۹۳۱) تن کرومایت سهم وزارت از تولیدات تحت قرارداد شرکت هیواد برادرز معدن ساحه گدا خیل کوه صافی ولایت پروان از طریق پروسه داوطلبی!

وزارت معادن و پترولیم مقدار (۳۶۳/۹۳۱) تن کرومایت سهم وزارت از تولیدات معدن ساحه گدا خیل کوه صافی ولایت پروان تحت قرارداد شرکت هیواد برادرز را از تاریخ ۱۴۴۸/۰۱/۲۹ ه ق مطابق ۱۴۰۵/۰۴/۲۴ ه ش غرض آگاهی علاقمندان به منظور فروش از طریق پروسه داوطلبی برای مدت ۱۰ روز به اعلان مجدد میسپارد.

قابل ذکر است که قیمت ابتدایی برای فی تن کرومایت متذکره از طرف کمیته محترم قیمت گذاری مبلغ (۱۱۰۰۰) افغانی تعین گردیده است و متقاضیان محترم میتوانند درخواستی شان را جهت اشتراک در پروسه داوطلبی در جریان اعلان به ریاست عمومی کادستر و تطبیق قرارداد ها ارائه و شرطنامه مربوطه را دریافت نمایند و هکذا داوطلبان محترم مکلف اند مطابق رهنمود جدا سازی سهم، ده (۱۰) فیصد مجموعه قیمت ابتدایی را بشکل تضمین بانکی در روز داوطلبی با خود داشته باشند.

اعلان مجدد داوطلبی

موضوع: نشر اعلان مجدد مقدار (۸۱۹۲/۱۵۷۳) تن سرب و جست سهم وزارت از تولیدات شرکت بلوچ محمد عزیزی معدن ساحه اسپ میدان ولسوالی یکاولنگ ولایت بامیان از طریق پروسه داوطلبی!

قرار است وزارت معادن و پترولیم مقدار (۸۱۹۲/۱۵۷۳) تن سرب و جست سهم وزارت از تولیدات شرکت بلوچ محمد عزیزی معدن ساحه اسپ میدان ولسوالی یکاولنگ ولایت بامیان را از تاریخ ۱۴۴۸/۰۱/۲۹ ه ق مطابق ۱۴۰۵/۰۴/۲۴ ه ش غرض آگاهی علاقمندان به منظور فروش از طریق پروسه داوطلبی برای مدت ۱۰ روز به اعلان مزایده بسپارد.

قابل ذکر است که قیمت ابتدایی برای فی تن سرب و جست متذکره از طرف کمیته محترم قیمت گذاری مبلغ (۳۵۰) دالر امریکایی تعین گردیده است و متقاضیان محترم میتوانند درخواستی شان را جهت اشتراک در پروسه داوطلبی در جریان اعلان به ریاست مدیریت و تطبیق معادن فلزی ارائیه و شرطنامه مربوطه را دریافت نمایند و هکذا داوطلبان محترم مکلف اند مطابق رهنمود جداسازی سهم و شرطنامه، ده (۱۰) فیصد مجموعه قیمت ابتدایی را بشکل تضمین بانکی در روز داوطلبی با خود داشته باشند.

موضوع: اعلان داوطلبی عقد استصناع

شماره داوطلبی: MOIC/W-4/NCB/1405

وزارت اطلاعات و فرهنگ، به منظور استفاده مؤثر از ملکیت خویش و افزایش عواید امارت اسلامی افغانستان، در نظر دارد پروژه عقد استصناع مربوط به زمین ملکیت این وزارت را که در جاده بیهقی، ولایت بلخ موقعیت دارد، از طریق داوطلبی باز داخلی به شیوه آفر سربسته به داوطلب واجد شرایط واگذار نماید.

بناً، از تمامی داوطلبان واجد شرایط دعوت به عمل می آید تا در پروسه داوطلبی عقد بیع استصناع موازی مربوط به (۵۵۰) متر مربع زمین ملکیت وزارت اطلاعات و فرهنگ واقع جاده بیهقی ولایت بلخ، به منظور اعمار بلند منزل تجارتی و بهره برداری مؤثر از آن، اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوط را در بدل مبلغ (۱۰۰۰) یک هزار افغانی غیرقابل استرداد از آمریت تدارکات وزارت اطلاعات و فرهنگ دریافت نمایند.

داوطلبان مکلف اند پیشنهادات (آفرهای) خویش را مطابق احکام و شرایط مندرج شرطنامه، قانون عقود و بیع استصناع و سایر اسناد تقنینی نافذ، به گونه سربسته ترتیب و از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز ۱۴۰۵/۰۵/۱۹ هجری شمسی به مدیریت عمومی تدارکات وزارت اطلاعات و فرهنگ، واقع چهارراهی ملک اصغر، مقابل وزارت امور خارجه، تسلیم نمایند. آفرهای رسیده بعد از موعد تعیین شده و همچنان آفرهای ارسال شده از طریق انترنت، قابل پذیرش نخواهد بود. داوطلبانی که در مورد شرطنامه یا روند داوطلبی پرسش داشته باشند، می توانند حداکثر ده (۱۰) روز قبل از ضرب الاجل تسلیمی پیشنهادات (آفرها)، به آمریت تدارکات وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نموده و درخواست توضیحات یا رفع ابهام خویش را مطرح نمایند. ذریعه کاپی این مکتوب به ریاست محترم اطلاعات و فرهنگ ولایت بلخ نگاشته میشود، تا موضوع اعلان متذکره را از طریق رسانه های جمعی آن ولایت به نشر رسانیده و پس از نشر، اسناد و مدارک مربوط را جهت ثبت و اجراآت بعدی، رسماً به آمریت تدارکات وزارت اطلاعات و فرهنگ ارسال نماید.

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

شاروالی شکر دره در نظر دارد خریداری یک عراده موتر تانکر آب مورد نیاز این اداره را به قرار داد بسپارد . اشخاص و افرادیکه خواهش داوطلبی آن را داشته باشند درخواست های خویش را به شاروالی شکر دره سپرده وخود شان از نشر اعلان الی مدت ۱۰ یوم جهت داوطلبی حاضر باشند، شرطنامه را میتوان ملاحظه نمود.۳۷۰۳

موضوع اعلان داوطلبی: پروژه تهیه قرطاسیه باب، رنگ باب و مواد تنظیفاتی

شماره داوطلبی: MOIC/G-12/NCB/1405

آمریت تدارکات وزارت اطلاعات و فرهنگ از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی: پروژه تهیه قرطاسیه باب، رنگباب و مواد تنظیفاتی برای سال مالی ۱۴۰۵ با شماره داوطلبی MOIC/G-12/NCB/1405 اشتراک نموده و سافت شرطنامه مربوط را از آمریت تدارکات- مدیریت عمومی تدارکات بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۴۰۵-۰۵-۰۸ هجری شمسی به وزارت اطلاعات و فرهنگ واقع چهار راهی ملک اصغر، ناحیه دوم، روبروی وزارت امور خارجه، آمریت تدارکات، مدیریت عمومی تدارکات منزل اول ارایه نمایند. و آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر الزامی نبوده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۱۴۰۴-۰۵-۰۸ هجری شمسی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تدارکات تدویر میگردد.

نوت: آنعده داوطلبان که پرسش داشته باشد می تواند ۳ روز قبل از ضرب الاجل تسلیمی آفر به آدرس متذکره مراجعه نمایند.

اطلاعیه به کرایه دهی

شرکت امارتی افسوتر حمام به مساحت ۱۱.۵ متر مربع واقع سرای شمالی سرک کابل پروان ملکیت خویش را از طریق داوطلبی (آفرگشایی) به کرایه می سپارد.

بناء اشخاص واجد شرایط می توانند بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به ریاست امور تجارتی افسوتر واقع کوچه گلفروشی شهر نو کابل مراجعه، تضمین نقدا اخذ می گردد.

جلسه به ساعت ده قبل از ظهر در حضور متقاضیان یا نمایندگان با صلاحیت شان برگزار می گردد.۳۶۸۸

اطلاعیه مفقوی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۵ به اسم شمس الدین فرزند محمد الدین مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۶۸۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فواد بهمن فرزند احمد خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حامد حسینی فرزند بریالی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد الدین محمدی فرزند جلال الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نصر الله هوتکی فرزند حاجی فاضل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد عمر اسحاقزی فرزند عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زاهد الله میاخیل فرزند جنت گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی خان امیر خیل فرزند پاچا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مرسل کارگر فرزند خرازک لاجوری مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ضیا الدین فرزند نور الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شهزاد گل احمدزی فرزند محمد رسول مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد الله فرزند عبدالعزیز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد داود فرزند لعل محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ولی محمد مرادی فرزند سخیداد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مهدی فرزند نور الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عین الدین زمانی فرزند امام الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بهاوالدین فرزند عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۸۱۳۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امیر جان نوری فرزند گل نور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نورآغا بخشی فرزند محمد نذیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله حسنی فرزند قاسم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ناهیده حسنی بنت عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جمشید نوری فرزند محمد قسیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسین داد فرزند انور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز الله محمدی فرزند عبدال مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سهیل نیازی فرزند محمد ولی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خیر محمد غلامی فرزند ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جاوید نیازی فرزند عبدالحق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قربان محمد کریمی فرزند غلام نبی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صاحب الدین نظامی فرزند حسام الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالمالک توخی فرزند عبدالمالک مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خلیل الله فرزند محمد افضل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جاوید رسولی فرزند غلام حبیب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نثار احمد قیومی فرزند عبدالخالق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۸۱۷۸

ارزګان کې یو شوونځي ته نوې ودانۍ ...

او ۵۶۴ افغانیو په لګښت په اساسي ډول جوړه شوې، چې شپږ درسي خونې، دهلېز، احاطوي دېوال، د وغتیا ساتنې اسانتیاوې او د پاکو اوبو سیستم لري. د ارزګان د اقتصاد ریاست د انکشافي فعالیتونو د تنظیم آمر مولوي حمید الله اغا د ښوونځي ودانۍ پر ارزښت او د هغې پر ساتنې ټینګار وکړ او له یونیسف او پلي کوونکو ادارو یې وغوښتل، چې په راتلونکي کې هم د ارزګان د ښوونځیو جوړولو او بیارغونې پروژو ته ځانګړې پاملرنه وکړي، ځکه د ولایت دې ښوونځي بیارغونې ته اړتیا لري.

هېواد کې د نفتي توکو بیې لوړې ...

ورته مهال خصوصي سکتور خبرداری ورکوي چې د سون‌توکو دوامدار لوړوالی به د ټرانسپورټ، خوراکي توکو او د ژوند پر نورو لګښتونو مستقیمې اغېزې وکړي.

کابل ښاروالۍ د ودانیو ۱۰۷۷ نقشې تأیید ...

د استحکام په لوړولو، د ښاریانو د خوندیتوب په تأمین او د طبیعي پېښو، په خانګړې توګه د زلزلې، له امله د رامنځته کېدونکو ګواښونو په کمښت کې مهم رول لري. کابل ښاروالي د ښاري ماسټرپلان د پلي کولو، د قانوني او معیاري ودانیو جوړولو او د ښار د متوازنې پراختیا په برخه کې مناسبې زمینې برابرولو ته ژمنتیا لري. له همدې امله له ټولو ښاریانو غوښتنه کېږي چې د هر ډول ودانیزو چارو له پیله وړاندې له اړوندو ادارو څخه رسمي ودانیز جواز تر السه کړي او د ودانۍ ټولې چارې د تأیید شویو نقشو او د ښار جوړونې د اصولو او مقرراتو مطابق پر مخ بوزي. دا بهیر د ښاري نظم پر ټینګښت سربېره، د اقتصادي ودې، د خوندیتوب کچې د لوړولو او د کاري فرصتونو په رامنځته کېدو کې هم مرسته کوي.

افغانستان در بخش تولید رنگ به خودکفایی ...

کرده و از حکومت می‌خواهند برای تقویت هرچه بیشتر این صنعت، تعرفه‌های گمرکی بر رنگ‌های وارداتی را افزایش دهد. این در حالیست که در حال حاضر در سراسر کشور نزدیک به شش هزار کارخانه تولیدی فعالیت دارند که برای شمار زیادی از هموطنان زمینه کار را فراهم کرده است. از میان ۱۳۴ بخش صنعتی، افغانستان در ۱۳۴ بخش به خودکفایی کامل و در ۳۵۰ بخش دیگر به خودکفایی نسبی دست یافته است.

بغلان کې د ۱۵۰ زرو ډالرو په لګښت معیاري ...

د جومات د پرانیستې په مراسمو کې د جوماتونو او دیني مرکزونو جوړول د اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا او خلکو ته د غوره خدمتونو د وړاندې کولو لپاره مهم ګام وبالله او د جلال خیریه بنسټ له همکاریو او فعالیتونو یې منله وکړه. بل لور ته د سیمې یو شمېر اوسېدونکو د «صالحین» جومات جوړول د خلکو لپاره ارزښتناک او تلپاتې خدمت وبالله او د دې پروژې له پلي کېدو یې خوښي څرګنده کړه.

هند د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې له ...

زېربنا وو ښه والی او په سوداګریزو ویزو کې د اسانتیا موارد د افغانستان د صادراتو د زیاتوالي لپاره وړاندیز کړي دي. په خبرپاڼه کې راغلي چې د هند سفیر د دغو وړاندیزونو هرکلی کړی او په یادو برخو کې یې د همکاریو د پراختیا لپاره د خپل هېواد پر ملاتړ ټینګار کړی دی. ده زیاته کړې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د کډو ندارتونونو جوړول، تخصصي ناستې او د سوداګریزو پلاویو سفرونه د پلان په اجنډا کې شامل دي. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ویلي چې دغه لیدنه کولای شي د افغانستان او هند ترمنځ د اوږدمهالو همکاریو او اقتصادي، سوداګریزو او پانګیزو اړیکو د پیاوړتیا زمینه برابره کړي.

پکتیکا کې د یو شمېر کرنیزو پروژو ...

چکډېمونو او د اوبو زېرمه کولو د حوضونو جوړول شامل دي. نومورې زیاتوکرې، چې د دغو پروژو په ترڅ کې ۱۲ کیلومتره سړک هم هوار شوی او د چاپېریال ساتنې او کرنیزې ودې په موخه ۱۵۸۰ د جلغوزو نیالګي هم کښل شوي دي. نومورې زیاته کړه، چې یادې پروژې د اوو میاشتو په موده کې بشپړې شوې، چې په بشپړېدو سره به یې د کرنې د پراختیا، د اوبو سرچینو د مدیریت، د خلکو د اقتصادي پیاوړتیا او د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې مثبتې اغېزې ولري. ده ټینګار کړی، چې د کرنیزو زېربناوو پراختیا د بزګرانو د ملاتړ او د سیمې د اقتصادي ودې لپاره مهمه ده او هڅې روانې دي، څو په دې برخه کې نورې پروژې هم پلي شي.

ارزګان کې د درېیو ولسوالیو د سړکونو ...

استندي دېوالونو او ۳۳۰ مترو معبرو (واشونو) د ترمیم او داغګیرۍ چارې هم شاملې دي، چې په اساسي ډول به ترمیم او ورغول شي. د ټولګټو وزارت لیکلي چې د دهراود، چورې او چنارتو ولسوالیو د سړکونو ترمیم او داغګیري د یادو ولسوالیو د ټرانسپورتي وضعیت په ښه والي، د خلکو د تګ راتګ په اسانتیا او د هېوادوالو په خوندیتوب کې مهم رول لري. د سرچینې په وینا د دې پروژې په بشپړېدو سره به د یادو ولسوالیو اوسېدونکو ته د روغتیایي او ښوونیزو مرکزونو او بازارونو ته د لاسرسي لا زیاته زمینه برابره شي.

نورستان کې د ۱۵ کلنې دښمنۍ په ګډون ...

ولسوالی د ارچنو په سیمه کې د دوو کورنیو ترمنځ ۱۵ کلنه دښمني، چې له امله یې دوه کسان وژل شوي او یو تن ټپي شوی و، د ولسوالی د مسئولینو، علماوو او قومي مشرانو په هڅو پای ته ورسېده. د روغې جوړې د پرېکړې له مخې، ټپي شوي کس ته د تاوان په بدل کې ۱۵ غواګانې ورکړل شوې او دواړو کورنیو د وژل شویو کسانو د قصاص حق یو پر بل وبانېه. چاروا کو او قومي مشرانو له خلکو وغوښتل، چې خپلې شخړې د خبرو، زغم او وروروالۍ له لارې حل کړي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com :ویب سایت

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳٤۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷٦٤۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: بصیر احمد امیري / ۰۷۹۲٦۰۹۰٦۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷٦٦۰٤٤۹٦٦/ ۰۷۳۱٦۰٦۰۷۳

Sunday 19 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1110

ننګرهار کې د امربالمعروف قانون د تطبیق په اړه د همکارۍ غونډه ترسره شوه

د امربالمعروف، نهي عن‌المنکر او شکایتونو اورېدلو وزیر، شیخ محمد خالد حنفي په ننګرهار کې د مشرقي زون له علماوو، متنفذینو او قومي مشرانو سره د یاد وزارت د قانون د تطبیق په اړه د ګډې همکارۍ غونډه کړې ده. د یاد وزارت ویاند سیف‌الاسلام خیبر د ښاغلي حنفي په حواله ویلي: د ټولو مجاهدینو د قربانیو، سترياوو او تکلیفونو بنسټیزه موخه دا وه، چې بهرني اشغالګر له افغانستان څخه ووځي او په هېواد کې د اسلامي شریعت نظام نافذ شي. شیخ محمد خالد حنفي همدا راز د علماوو، قومي مشرانو او مخورو د همکارۍ پر اهمیت ټینګار کړی او زیاته کړې یې ده، چې د امربالمعروف قانون د ښه تطبیق لپاره د ټولنې د بېلابېلو قشرونو همغږي او کډه همکاري اړینه ده.

هند د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې له پراختیا ملاتړ اعلان کړ

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي: د دې خونې رئیس او په کابل کې د هند سفیر د صادراتو د زیاتوالي، د لوژستیکي اسانتیاوو د ښه والي، د سوداګریزو خنډونو د لرې کولو او سوداګرو ته د ویزو په اخیستو کې د اسانتیا په اړه خبرې کړې دي. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې د دې خونې عمومي رئیس سیدکریم هاشمي پرون په کابل کې د هند له سفیر یتین پټېل سره لیدلي دي. د خبرپاڼې له مخې، هاشمي په دې لیدنه کې د افغانستان او هند ترمنځ د سوداګریزو او پانګیزو اړیکو پراختیا، د سوداګریزو بهیرونو پر اسانتیا، اداري خنډونو پر لرې کولو او د خصوصي سکټور د بنسټونو پر پیاوړتیا ټینګار کړی دی. ده هند ته د خپل وروستي سفر لاسته‌راوړنو ته په اشاره، د کرنیزو محصولاتو، لاسي صنایعو، کانونو او معدني توکو د صادراتو برخو کې د اقتصادي همکاریو د دوام غوښتنه کړې ده. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې رئیس دغه راز د هدفمنو بازارونو پراختیا، د لوژستیکي ... ۳مخ

اتحادیه تولیدکنندگان رنگ:

افغانستان در بخش تولید رنگ به خودکفایی رسیده است

اتحادیه تولیدکنندگان رنگ، می‌گوید که در حال حاضر کشور در بخش تولید رنگ به خودکفایی رسیده و دیگر نیازی به واردات رنگ از کشورهای خارجی وجود ندارد. اعضای این اتحادیه از امارت اسلامی می‌خواهند، برای تقویت صنعت رنگ، تعرفه‌های گمرکی بر رنگ‌های وارداتی را افزایش دهد تا از تولیدات داخلی بیشتر حمایت شده و این بخش بیش از پیش تقویت شود. رنگ که برای زیباسازی خانه‌ها استفاده می‌شود، در گذشته رنگ مورد نیاز افغانستان از کشورهای خارجی وارد می‌شد. اما اکنون اتحادیه تولیدکنندگان رنگ می‌گوید که در سراسر کشور ۸۰ کارخانه تولید رنگ فعالیت دارند و مطابق نیاز بازار، انواع مختلف رنگ را تولید می‌کنند و در این بخش به خودکفایی رسیده‌اند. مسئولان شماری ازکارخانه‌های تولید رنگ در داخل کشور، کیفیت محصولات خود را تضمین ... ص۳

بغلان کې د ۱۵۰ زرو ډالرو په لګښت معیاري جومات جوړ شو

د بغلان ولایت د دوشي ولسوالۍ د کیلکي په سیمه کې د «صالحین» په نامه یو معیاري جومات د جلال خیریه بنسټ له لوري د ۱۵۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت جوړ او پرانیستل شو. د بغلان د والي ویاند فاروقي خپلواک باخبراطلاعاتي اژانس ته وویل، چې دغه جومات د ۶۰۰ نارینه او ۱۰۰ ښځینه لمونځ کوونکو د ځایېدو ظرفیت لري چې د نارینه وو او ښځو لپاره جلا برخې او تولې اړینې اسانتیاوې پکې برابرې شوې دي. د نومورې په وینا، د بغلان والي مولوي عبدالله مختار ... ۳مخ

پکتیکا کې د یو شمېر کرنیزو پروژو بشپړېدل

د پکتیکا ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالداری ریاست مسئولین وایي: د دغه ولایت په مرکز ښارنه او د کیان او متاخان ولسوالیو کې د افغانستان د راتلونکو نسلونو موسسې (FGA) په همکاری یو شمېر لویې او کوچنۍ کرنیزې پروژې بشپړې او کتې اخیستنې ته سپارل شوې دي. د یاد ریاست رئیس مولوي لعل محمد کوهر ویلي، چې دغه پروژې د ۲۶۱ زره او ۲۳۱ امریکایي ډالرو په لګښت پلي شوې دي، چې پکې د اوبو د مدیریت او د کرنیزو ځمکو د ساتنې لپاره د استنادي دېوالونو ... ۳مخ

په سرحدي سیمو کې ګڼ شمېر قاچاقي توکي نیول شوي

د دفاع وزارت ویلي: افغان دفاعي ځواکونو د هېواد په بېلابېلو سرحدي سیمو کې سلګونه توکي، روغتیایي وسایط او قاچاقي وسلې کشف او ضبط کړي. یاد وزارت زیاته کړې، چې په دغو قاچاقي توکو کې: ۹ کارتنه بېلابېل ډول روغتیایي درمل او طبي توکي ۲۳ بنډله ثانیه سوز، (۲۳۰۰) کرامه اپین ۱۸ کیلو شیشه، ۸ میله کلاشینکوفونه، ۲میله روسي پیکا، ۷میله M٤, ۱۲ قبضې تفنګچې، ۲٦۲ فیره بېلابېل ډول ټقیله مرمی، ٦ موټرسایکلونه او د ۵٦ موټر او پرزې شاملې دي.

همدارازله دغو قاچاقي توکو سره ۱٦ تنه قاچاقبران هم نیول شوي، چې غوښتل یې یاد توکي په غیر قانوني توګه له افغانستان څخه نورو هېوادونو ته انتقال کړي. د دغه وزارت په وینا؛ نیول شوي کسان له لومړنیو څېړنو وروسته اړوندو قانوني مراجعو ته سپارل شوي دي.

ارزګان کې د درېیو ولسوالیو د سړکونو د ترمیم پروژه بشپړېدو ته نږدې ده

د ټولګټو چارو وزارت خبر ورکړی، چې د یاد وزارت له لوري د ارزګان ولایت د ترینکوټ-دهراود ولسوالۍ د ۲۰ کیلومتره، د ترینکوټ-چورې ولسوالۍ د ۴۲ کیلومتره او د ترینکوټ - چنارتو ولسوالۍ د ۱۷ کیلومتره سړکونو د ترمیم او داغګیرۍ چارې روانې دي. د دغه وزارت ویاند، محمد اشرف حق‌شناس په ایکس‌پاڼه لیکلي، چې دا پروژه د ټولټال ۱۸ میلیونو ۴۹۴ زرو افغانیو په ارزښت له یو ساختماني او د سړک جوړونې شرکت سره قرارداد شوې او دا مهال یې چارې ۸۰ سلنه بشپړې شوې دي. د خبرپاڼې له مخې؛ د یادو مسیرونو په اوږدو کې د ۵ پلګوتو، ۴۷۰ مترو ... ۳مخ

آغاز قیرریزی جاده زین‌العابدین درهرات

کار قیرریزی جاده زین‌العابدین در ناحیه چهاردهم شهر هرات با هزینه حدود ۹ میلیون افغانی آغاز شد. مسئولان شاروالی هرات می‌گویند که این جاده به طول ۵۶۰ متر و عرض ۸ متر، با احداث کانال‌های آبرو در دو طرف آن، از بودجه انکشافی این اداره ساخته می‌شود. به گفته آنان، این پروژه با هدف بهبود وضعیت ترانسپورتی، تأمین سهولت‌های شهری، کاهش مشکلات رفت‌وآمد باشندگان محل و توسعه زیرساخت‌های شهری تطبیق می‌شود.

نورستان کې د ۱۵ کلنې دښمنۍ په ګډون څو شخړې حل شوې

د نورستان ولایت په برکمتال او واما ولسوالیو کې د سیمه ییزو مسئولینو، علماوو او قومي مشرانو په منځګړیتوب د درېیو کورنیو ترمنځ څو دښمنۍ حل شوې. د برکمتال ولسوالۍ د پخیګرام کلي هغه شخړه، چې څو میاشتې وړاندې د یوه کس د وژل کېدو له امله رامنځته شوې وه، د نورستان دوالي او نورو ځایي مسئولینو او قومي مشرانو په هڅو حل او فصل شوه. دواړو لوریو د جرګې پرېکړه ومنله او د سولې د دوام ژمنه یې وکړه. همدارنګه د واما ... ۳مخ

د امریکا له ایران سره جګړه کې د خپلو ټیپانو شمېر اعلان کړ

د امریکا د دفاع وزارت خبر ورکړی، چې له ایران سره جګړه کې یې د ټیپي شویو پوځیانو شمېر ۴۲۷تنو ته ورسېد. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې دغو ټیپانو کې ۲۷۸ پوځیان، ۸۷ د سمندري خواکونو او ۵۳ د هوایي خواکونو موظفین شامل دي، خو امریکا بیا له ایران سره جګړه کې د وژل شویو امریکایي ځواکونو په اړه تر اوسه څه نه دي ویلي. د یادونې ور ده، چې تېره یوه اوونۍ کې د تهران او واشنګټن ترمنځ یو ځل بیا نښتو زور اخیستی او دواړو لوریو د یو بل پر پوځي او ملکي تأسیساتو بریدونه کړي دي.

در حملات تازه رژیم اسرائیل برغزه ۱۴ فلسطینی شهید شدند

منابع صحی در غزه اعلام کرده‌اند که در نتیجه حملات رژیم اسرائیل در مناطق مختلف نوار غزه ۱۴ فلسطینی شهید شده‌اند. به گزارش شبکه خبری الجزیره، در حمله طیاره بی‌سرنشین اسرائیل بر تجمع غیرنظامیان در کمپ آوارگان «نصیرات» در مرکز غزه، هشت فلسطینی شهید و ۲۰ تن دیگر زخمی شدند. این افراد برای شرکت در مراسم تشییع یکی از فلسطینیان که پیشتر در حمله دیگر رژیم صهیونیستی شهید شده بود، گردهم آمده بودند.

زرګونو یمنیانو د حوثیانو په ملاتړ لاریون وکړ

زرکونو کسانو د یمن په پلازمېنه صنعا کې د حوثیانو په ملاتړ لاریون وکړ او د سعودي عربستان پر ضد یې شعارونه ورکړل. دغه لاریون وروسته له هغه وشو چې د صنعا پر نړیوال هوایي ډګر برید او د حوثیانو له لوري پر سعودي ځوابي بریدونه ترسره شول. د دغو پېښو له امله د سعودي عربستان او حوثیانو ترمنځ د جګړې د پراخېدو اندېښنې زیاتې شوې دي. راپورونه وایي: پاکستان هم له سعودي عربستان سره د دفاعي ټرون له امله بنایي د سیمې د کړکېچ تر اغېزو لاندې راشي. د وضعیت د لا خرابېدو په اړه سیمه‌ییزې اندېښنې مخ په زیاتېدو دي.

پاکستان کې د امنیتي اندېښنو له امله ځینې قونسلګرۍ د تل لپاره تړل کېږي

پېښور کې د امریکا قونسلګري د امنیتي اندېښنو له ا مله وتړل شوه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي: دا پرېکړه د کارکوونکو د امنیت او د سرچینو د اغېزمن مدیریت په موخه شوې ده. له دې وروسته به د خیبرپښتونخوا اړوند ټولې دیپلوماټیکي چارې په اسلام‌اباد کې د امریکا د سفارت د خیبرپښتونخوا څانګې له لارې پر مخ وړل کېږي. هاخوا راپورونه وایي، چې فرانسې هم د پاکستان کراچۍ ښار کې د تل لپاره د خپلې قونسلګرۍ د تړلو پرېکړه کړې ده. په دې وروستیو کې پر خیبرپښتونخوا سربېره په بلوچستان او ان سند کې هم ناامني پراخه شوې چې ورسره هلته سیاسي او اقتصادي حالت خراب شوی دی.